# المنافقون

**مدنی سورة دی ۱۱ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ
لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١

**(ای پیغمبره!) کله چې منافقین تا ته راشی نو( ظاهراً او په پوره بې اعتقادۍ سره تاته) وایی مونږ شاهدی ورکوو، چې ته بې له شکه د الله تعالی رسول یې. الله تعالی پوهیږی چې ته بیشکه د هغه رسول یې او الله تعالی ګواهی ورکوی چې منافقین درواغجنان دی( او درواغ یې امتیازی خصلت او شعار دی).**

ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ٢

**خپل سوګندونه یې( د خپل نفاق د پټولو او د خپل سر او مال د حفاظت لپاره) ډال کړی او( هم پرې خلک) د الله تعالی له لارې منع کوی. څومره بد او ناوړه عمل دی چې دوی یې سرته رسوی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣

**( د دوی نفاق او ناوړه اعمال) د دې لپاره دی چې هغوی( په ژبو) ایمان راوړی،خو بیا (عقیدتاً)کافران شوی او له همدې امله یې په زړونو( د بدمرغۍ داسې) ټاپه لګیدلې چې(د ایمان او صداقت ټول صلاحیتونه ترې سلب شوی او) حقایق نشی درک کولی.**

۞وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ
كَأَنَّهُمۡ خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ
قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٤

**د دوی د ظاهری سرو صورت (د ښکلا) په لیدلو به حیران شی، او د خبرو( فصاحت، جذابیت او خوږوالی یې هم ستا خاصه پاملرنه جذبوی او) په غور یې اورې( خو په باطن کې) دوی هغو وچو دړو ته ورته دی چې**

**دیوال ته لګیدلې وی( او ویره او بزدلی یې تر دې حده ده چې) هر لوړ غږ د خپل ځان لپاره لویه بلا او ټکه ګڼی.(ای مؤمنانو!) دوی( ستاسو) ښکاره دښمنان دی، ځانونه ترې لیرې وساتی، الله تعالی دې دوی تباه کړی. ولې( د ثابتو او روښانه دلایلو له لیدلو سره سره له حق نه باطل ته) منحرف کیږی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ
يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ٥

**او چې ورته وویل شی راشئ( له منافقت نه لاس واخلئ او توبه وباسئ)چې د الله رسول درته د مغفرت دعا وکړی، نو سرونه تاو کړی، او ورته به ګورې چې په ډیر غرور له حق نه انکار کوی( او د پیغمبر دعا ته هم هیڅ ارزښت نه ورکوی).**

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ
لَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ٦

**د دوی د ښښنې لپاره ستا دعا کول او نه کول یو شان دی( او که ته د خپل مرحمت او شفقت له مخې د دوی لپاره د مغفرت دعا هم وغواړې او دوی خپل نفاق ته دوام ورکړی) الله تعالی ورته ښښنه نه کوی، ځکه الله تعالی( هیڅکله) فاسقان د هدایت په لاره نه برابروی.**

هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ
يَنفَضُّوا ۗ وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا
يَفْقَهُونَ ٧

**دوی هماغه کسان دی چې خپلو ملګرو ته وایی: د پیغمبر پلویانو او پیروانو( بې وزلو مهاجرینو) ته خیراتونه او صدقات مه ورکوئ، تر څو له هغه نه بیزاره او ترې خواره واره او متفرق شی، خو دغه (ناپوه او جاهل) منافقین په دې حقیقت نه پوهیږی چې د آسمانونو او ځمکې خزانې له الله تعالی سره دی.**

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ۚ
وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾

وایی که مدینې ته ستانه شو، نو زمونږ عزتمند( مشران) به خوار او حقیر کسان( د اسلام پیغمبر او مؤمنان) له هغه ښاره وشړی،( په داسې حال کې چې) عزت او اقتدار الله تعالی، پیغمبر او مؤمنانو ته ځانګړی دی خو منافقین په دغه حقیقت نه پوهیږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن
ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾

ای مؤمنانو! هسې نه چې مال او اولاد مو د الله تعالی له یادو غافل کړی، او څوک چې( د مال او اولاد په مینه کې) الله تعالی هیروی نو له سخت زیان سره مخامخ دی.

وَأَنفِقُوا۟ مِن مَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ
لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠﴾

او له هغې روزۍ څخه چې مونږ تاسو ته درکړې د الله تعالی په لاره کې نفقه ورکړی، وړاندې له دې چې مرګ مو راورسی، او بیا ووایی چې ای ربه ولې دې دومره مهلت را نه کړ، چې( ستا امر مې منلی وی) صدقه مې ورکړی وی او په نیکوکارانو کې شمیرل شوی وی.

وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾

او د چا چې د ژوند موده پوره شی، الله تعالی ورته بیا نور مهلت نه ورکوی، او الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.

« تمت سورة المنافقون بفضل الله رب العالمین».

===================